# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۰مه | ۶۴۸مه ګڼه


پوهنتون

۴ مخ

## د مولاناجلال الدين بلخي پوهنتون

د مولانا جلال الدين بلخي پوهنتون اداره د محصلينو لپاره بېلابېل تخفيفونه لري، چې لومړيتوب يې د شهيدانو، معلولينو د کورنۍ غړو ته ورکړې دی.



# له خلکو او عامه ګټو سره دښمني؛

## سکاټ مېلر: طالبان په قصدي توګه عامه تاسيسات ويجاړوي



۳

خلور زره جوړېدونکې ښوونځي، يو مهم ګام او يوه جدي اندېښنه

۲ مخ

د چين ټکنالوژي به د افغان زعفرانو د لا پرمختګ سبب شي

۲ مخ

په سوريه کې د ناټو عسکر څه کوي؟

۳ مخ

## ښارجوړونې وزارت: قطر په کابل کې د ۱۱۰ میليونو ډالرو په لګښت ښارګوټی جوړوي



ښارجوړونې وزارت وايي چې قطر په کابل کې د ۱۱۰ میلیونه ډالرو په لګښت ښارګوټی جوړوي. د یاد هستوګنیز ښارګوټي د رغولو تړون د الغرافي خيريه موسسې او ساختماني شرکتونو ترمنځ لاسليک شوی دی. ياد ښارګوټی چې په کابل ښار کې له مهمو ښارګوټو څخه شمېرل کېږي، د الغرافي خيريه موسسې د شاوخوا ۱۱۰ ميليون امريکايي ډالرو په مالي مرسته جوړېږي. د يادې خيريه موسسې اجرايوي رييس شاهد جواد الله رخا د ځمکې د انتقال او د ښارګوټي تفصيلي پلانون د جوړولو په برخه کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت له همکارۍ په مننې د يادې پروژې د ښه تطبيق ژمنه کړې ده. د يادونې ده چې قطر هستوګنيز ښارګوټی په ۳۲ جرېبه ځمکه د کابل ښار په پنځمه ناحيه کې جوړېږي. د تفصيلي پلان پر اساس، په دغه ښارګوټي کې اته ۱۲ پوړيزه هستوګنيز بلاکونه، درې ۷ پوړيزه تجارتي بلاکونه، يو جومات، دوه ښوونځي، يو دارالايتام او دوه ۵ پوړيزه تجارتي مرکزونه په پام کې نيول شوي دي.

## راپورونه: د ملګرو ملتونو امنيت شورا د طالبانو پر وړاندې د بنديزونو څارنې ډلې واک وغځاوه

د ملګرو ملتونو امنيت شورا د طالبانو پر وړاندې د بنديزونو د څارنې ډلې واک غځولی دی. دغې شورا د رايو په اکثريت د طالبانو او د هغو شرکتونو پر وړاندې چې له يادې ډلې سره مرسته کوي، د دغه سازمان د څارنې ډلې واک تر يوه کال پورې غځولی دی. يادې شورا د څارنې له ډلې غوښتنه کړې چې بايد طالبان او يو شمېر هغه شرکتونه چې له دغې ډلې سره مرسته کوي، تر قوي څار لاندې ونيسي او د بنديزونو د نه عملي کېدو په صورت کې يې په اړه اړين اقدامات وکړي.

د ملګري ملتونو امنيت شورا دغه راز افغانستان کې د تاوتريخوالي د کچې پر لوړېدو هم اندېښنه څرګنده کړې ده. دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو د ګڼو مشرانو په ګډون يو شمېر هغه شرکتونه چې له يادې ډلې سره پر مرستې تورن دي، نومونه يې د ملګرو ملتونو په تورلېست کې دي، د دوی شتمنۍ کنګل شوي او دغه راز ګڼ نور بنديزونه هم پرې لګېدلي دي.

په ورته وخت کې طالبانو په دې وروستيو کې د افغان سولې په برخه کې د امريکا له ځانګړي استازي زلمي خليلزاد غوښتي چې د دوی د مشرانو نومونه له تور لېسته و ايستل شي او دغه راز پرې لګېدلي بنديزونه هم لرې شي.

## ولسي جرګه: حکومت او طالبان دې د سولې خبرې د ځای له کبله نه قرباني کوي




۵ مخ

## پاکستان: سفر هیئت طالبان جز پالیسی اسلام آباد در مورد صلح افغانستان است



سفر دو روزه هیئت سیاسی گروه طالبان به پاکستان با ملاقات با عمران خان صدراعظم این کشور به پایان رسید.
زاهد حفیظ چوهدری سخنگوی وزارت خارجه پاکستان گفت که این سفر جز پالیسی حکومت پاکستان در رابطه با صلح افغانستان می‌باشد. به گفته او: «در جریان این سفر، هیئت طالبان با وزیر خارجه صحبت کرد و با صدراعظم پاکستان عمران خان هم ملاقات داشت. سفر هیئت کمیسیون سیاسی طالبان جز پالیسی پاکستان است که با تمام طرف‌های ذیدخل در پروسه صلح افغانستان تماس داشته باشد و در مذاکرات بین‌الافغانی سهولت ایجاد کند.»
دفتر عمران خان صدراعظم پاکستان هم در اعلامیه‌ای گفته که آقای خان در ملاقات با هیئت طالبان در مورد افزایش خشونت در افغانستان ابراز نگرانی کرده و از هردو طرف جنگ خواسته که خشونت را کاهش بدهند تا راه برای آتش‌بس باز شود.
در اعلامیه دفتر صدراعظم پاکستان همچنان آمده که دو طرف جنگ در افغانستان باید فرصتی را فراهم کنند که در افغانستان صلح ایجاد شود و نگذارند این حرکت با موانع رو به رو شود.
محمد نعیم سخنگوی دفتر سیاسی طالبان در دوحه در تویتر خود نوشته است که در ملاقات هیئت طالبان با عمران خان در مورد سرنوشت مهاجرین افغان، خط مشی افغان‌ها، زندانیان افغان در پاکستان و وضعیت کنونی افغانستان صحبت شد.
پاکستان در حالی که امتیاز میانجیگری و تسهیل در مذاکرات صلح افغانستان را از آن خود می‌داند، ولی بعضی از حلقه ها را متهم می کند که این پروسه را تخریب می کنند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

# څلور زره جوړېدونکې ښوونځي، یو مهم ګام او یوه جدي اندېښنه

ملګرو ملتونو او طالبانو موافقه کړې چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې به څلور زره غیر رسمي ښوونځي جوړوي. دا ښوونځي به تر شپږم ټولګي پورې وي، چې تر دریېم ټولګي پورې به هغه نجونې هم پکې زده کړې کوي چې عمرونه یې تر اتو کلونو اوښتي نه وي. دا موافقه د طالبانو او ملګرو متلونو ترمنځ له اوږدو مذاکراتو وروسته شوې ده. د دغو ښوونځیو چارې به د طالبانو او ملګرو ملتونو د یو ګډ کمېسیون له خوا پرمخ وړل کېږي او لګښتونه به یې د ملګرو ملتونو تر مشرۍ لاندې بریټانوي او امریکایي مرستندویه موسسې ورکوي.

دا له څو اړخونو یو ستر بدلون ګڼل کېږي. لومړی دا چې لومړی ځل دی چې د طالبانو او ملګرو ملتونو ترمنځ پر یوه داسې لوی ښوونیز پروګرام توافق کېږي. دویم دا چې دا پروګرام به په هغو سیمو کې پلی کېږي، چې هلته جګړه وه او ښوونځي پکې بند وو. دریېم دا چې په دغو ښوونځیو کې به نجونې هم زده کړې کوي. څلورم دا چې چارې به یې د طالبانو او ملګرو ملتونو ترمنځ په ګډه پرمخ وړل کېږي. له همدې امله دا یو متفاوت او مهم ګام ګڼل کېږي. تر دې مهم بدلون دا دی چې د دغو ښوونځیو لګښت به امریکایي او بریټانوي موسسې ورکوي.

په افغانستان کې اوس درې اعشاریه اووه میلیونه ماشومان له زده کړو بې برخې دي. دوی په هغو سیمو کې دي چې یا د طالبانو تر کنټرول لاندې دي او یا هم جګړه پکې روانه ده. له بله اړخه د دغو ماشومانو غوڅ اکثریت نجونې دي. اوس چې دا ښوونځي جوړېږي، تمه ده چې د دغو ماشومانو یوې برخې ته به ښوونځي ته د تلو زمینه برابره شي. له دې سره دا هیله هم پیدا شوې چې ښایي دا توافق لا زیاتو داسې توافقاتو ته لاره هواره کړي چې په هغو کې به ټول پاتې ماشومان ښوونځي ته لاسرسی پیدا کړي.

دا سمه ده چې دا ښوونځي به په پیل کې له ستونزو سره مخ وي. مسلکي ښوونکي به ونه لري او یا به هم کم وي، په اداره او نصاب کې به یې ستونزې وي او سویه به یې هم ټیټه وي، خو له دې کبله چې دا پیل دی، نو څکه په طبیعي ډول به دا ستونزې وي. د وخت په تېرېدو سره به په ګډو هلو ځلو دا ستونزې ورو ورو کمې شي او یو وخت به دا ښوونځي په رسمي، معیاري او منل شوو ښوونځیو واوړي چې ورسره به په هېواد کې د ښوونیز نظام له پیاوړتیا سره مرسته وکړي.

د دغو ښوونځیو د جوړولو په تړاو ځینې اندېښنې هم شته، چې باید هېرې نه شي. یوه تر ټولو مهمه او جدي اندېښنه دا ده چې دا د بهرنیانو او ملګرو ملتونو له خوا پر یوه وخت په افغانستان کې له دوو دولتونو سره د اړیکو ښکاره مثال دی. دا سمه ده چې دا ښه ګام دی او باید ملاتړ یې وشي، خو که دا هر څه د یوې ادارې له خوا وشي، نو غوره به وي. داسې وېره ده چې دا ډول اړیکې، هوکړې او پروګرامونه به پر یوه وخت په افغانستان کې د دوو منل شوو دولتونو د رامنځته کېدو زمینه برابره کړي. تمه ده چې د افغانستان د سولې پروسه ژر یوې پایلې ته ورسېږي، څو په ټول هېواد کې دا ټول پروګرامونه د یوه واحد، مقتدر او خپلواک دولت پر مټ ترسره شي او د دوو دولتونو وېره هم له منځه ولاړه شي.

# د چین ټکنالوژي به د افغان زعفرانو د لا پرمختګ سبب شي



لیکنه: ډېوه
د چین مېډیا ګروپ د پښتو څانګې خبریاله

د ۲۰۲۰ز کال په نومبر میاشت کې د افغانستان زعفرانو په لومړي ټاټوبي (هرات ولایت کې) د زعفرانو پیاز له څو میاشتني خوب او استراحت وروسته د ښکلو ګلانو په غوړېدا پیل کوي او له زعفرانو څخه د نازکو تارونو د راټولولو وخت د ځایي بزګرانو او هلته په دې برخه کې د یوه چیني شرکت د کارکوونکو لپاره له خوشالیو ډکه شېبه وي. د زعفرانو ښه وده او حاصل دا ټول د دوی له خوښیو سره تړاو لري او هم ورته ډېر اهمیت لري.

زعفران د چینایانو په اند، داسې ارزښتناک نبات او د ګټورو، شتمنو طبي موادو درلودونکی دی چې په بدن کې د وینې جریان عادي کولو کې، د دردونو مخنیوي کې ډېر ګټور او اغېزمن رول لري. د افغانستان زعفران د کیفیت له لحاظه په ټوله نړۍ کې مشهور او د مخکښ ځای په ترلاسه کولو توانېدلي چې په چین کې د مسلکي پوهانو لخوا یې هم کیفیت تایید او پېژندل شوی دی. د افغانستان په هرات ولایت کې د زعفرانو د تولید په اړه د یو چیني شرکت مسوول شیانګ جي وایي، د افغانستان زعفران د ښه او عالي کیفیت درلودونکی دي او په چین کې افغان زعفران ډېر ښه او د ستر بازار لرونکی دي او له ۲۰۱۶ز کال څخه تر اوسه پورې یې د زعفرانو کښت او حاصلاتو اصلاحاتو په چارو کې ډېر زحمتونه ایستلي چې ښې نتیجې یې ورکړې دي.

د افغانستان حکومت او اړوندو ادارو هم پخپل وار د بزګرانو ملاتړ او هڅونه کړې چې د زعفرانو کرنې ته مخه وکړي او د دغه نبات کرنه د افغان بزګرانو ترمنځ اوس په چټکۍ سره د زیاتوالي او پراختیا په حال کې ده، هیله لري چې له دې لارې د بزګرانو کارونه او عایدات څو برابره زیات شي، په ځانګړې توګه په دغه هېواد کې د نشه‌یي نباتاتو ځای ونیسي او په دې برخه کې زعفران تر ټولو ښه بدیل بلل کېږي. په هرات ولایت کې د زعفرانو د تولید په اړه د چیني شرکت مسوول شیانګ جي هم داسې نظر لري. هغه وایي، د دغه کار په اړه باید له ۲۰۱۶ز کال څخه یادونه وشي. هغه وخت مې فکر کاوه چې د یو کمربند او یوې لارې تر ټول‌شموله تګلارې لاندې زه څنګه او څه ډول کارونه کولی شم؟ نو لومړی مې د افغانستان، پاکستان او ایران په شمول له څو هېوادونو څخه نږدې لیدنې کتنې وکړې او د خپلو لیدنو کتنو په ترڅ کې مې دا نتیجه ترلاسه کړه چې په افغانستان کې د کوکنارو کرکیله شتون لري، خو د دغه هېواد په هرات ولایت کې د زعفرانو کیفیت په سیمه کې تر ټولو لوړ دی او د ډېر ښه شهرت درلودونکی دي، د دغه هېواد د حکومت لخوا زعفران د کوکنارو د کرلو پر ځای د یو ښه کرنیز نبات په توګه ګڼل کېږي، نو د ۲۰۱۷ز کال په جنوري میاشت کې مې له څو تنو همکارانو سره په افغانستان کې د زعفرانو د کرنې شرکت جوړ کړ او ځمکه مې ایجاره کړه، د زعفران پیاز مې واخیستل او د زعفرانو د کرنې په کارونو باندې مې پیل وکړ. ډېره د خوشالۍ شېبه وه چې د همدغه کال د نومبر په ۱۸مه زموږ د زعفرانو د ګلانو غوټۍ وغوړېدې.

د چیني سوداګر شیانګ جي په نظر، که د چین له اړوندو ټکنالوژیو د زعفرانو د کرنې په برخه کې استفاده شي، باور لرم چې د افغان زعفرانو کیفیت به لا نور هم ورسره لوړ شي. زعفران یو ډول ځانګړی نبات دی چې په ژمي کې وده کوي، د مې او جون له میاشتو وروسته چې تودوخې پنځه ویشت سانتیګراد ته رسېږي، د استراحت او خوب موده یې وي. د منې په وخت کې په نومبر کې د تودوخې له ټیټېدو وروسته د زعفرانو غوټۍ غوړېږي او ګلان کوي. د همدغې ځانګړتیا له مخې، زعفران په مې او جون میاشتو کې د خوب او استراحت له مودې وروسته د ریښو برخه له بهر څخه ایستل کېږي او وروسته په ځانګړو لرګینو قالبونو کې د زعفرانو د ودې او د ګلونو غوټیو غوړېدا چاپېریال ورته جوړېږي، نو په دغو ځانګړو لرګینو قالبونو کې په ریګونو کې زعفران ډېره ښه وده کوي، په بېرون کې په ازاده فضا او ځمکو کې چې د بېلابېلو نباتاتو او یا غلو دانو کرنه هم کېږي، معمولا د پسرلي په موده کې د غنمو کرنه کېږي او په منې کې یې حاصلات تر لاسه کېږي.

ښاغلي شیانګ جي وویل، د ۲۰۱۷ز کال په پای کې مې فکر وکړ چې کومه غوره چینایي ټکنالوژي او یا لارې چارې د زعفرانو په کرنه کې ګټور رول درلودلی شي. په دې توګه مو د څو کلنو تجربو په ترڅ کې د زعفرانو د کرنې، پالنې د بهیر لپاره په وار سره په ځانګړو لرګینو قالبونو کې د زعفرانو د ښې ودې، زعفرانو ته د اوبو او ګټورو کودونو (سرې) ورکولو، په پاک چاپېریال کې د زعفرانو د وچولو په شمول یو شمېر ټکنالوژۍ او نوې لارې چارې له یو بل سره ملګرې او عملي کړې دي. هغه وویل، له ۲۰۱۷ز کال څخه تر ۲۰۱۹ز کال پورې زموږ له خوا کرل شوي زعفران د افغانستان د کرنې وزارت لخوا د زعفرانو د کیفیت په اړه ترسره شوو سیالیو کې ګډون کړی، زموږ زعفران د رنګ، خوند، بوی او د روڼوالي درجو له لحاظه په ټولو برخو کې عالي او د ستاینې وړ لقبونه تر لاسه کړي، په دې توګه په عمومي کیفیت کې تر ټولو مخکښ مقام په ترلاسه کولو توانېدلي دي.

کله چې په افغانستان کې د زعفرانو غوټۍ غوړېږي او ګلان کوي، بزګران د زعفرانو له ګلانو څخه بارونه ټولوي. په چین کې اوس د زعفرانو د لا زیاتې ښې استفادې لپاره دوه مهم او ګټور ازمایښتونه د جنوبي چین د ټکنالوژۍ په پوهنتون کې تر کار لاندې دي. په دغه پوهنتون کې د روغتیایي موادو او د سینګار لپاره د څېړنې په ساحو کې دوې ډلې چې ټول غړي یې وتلي تجربه کاره پروفیسران او ډاکټران دي، د دغو دوو ازمایښتونو ترسره کوونکي دي او د ازمایښتونو محتویات یې د افغانستان له زعفرانو څخه د سینګار او د روغتیایي خوراکونو جوړول دي. د دغه پوهنتون د چاپېریال او انرژۍ پوهنې پروفیسر او د دغه پوهنتون او د نوښت د څېړنې انسټیټیوټ تر همکارۍ لاندې د ساینس او ټکنالوژۍ له لارې د کېمیاوي توکو د نوښت او څېړنې مرکز منشي چنګ جیان هوا له زعفرانو څخه د سینګار لپاره د موادو د جوړولو له ازمایښت او څېړنو سره ډېره علاقه لري.

پروفیسر چنګ جیان هوا وویل، لومړۍ سینګار په چین کې تر ټولو ستر بازار لري او خوندي، ډاډمن او اصلي طبیعي مواد څخه د سینګار لپاره استفاده کول د مشتریانو ډېر د علاقې وړ دي او خوښېږي. د افغانستان زعفران د دې کار لپاره یو ډېر ښه انتخاب دی، ځرنګه چې زعفران سور رنګ لري او طبیعي دی چې د سینګار په بازار کې د شونډو د لب سیرین او د نورو سینګارونو د جوړولو لپاره مهم مواد کېدلی شي. دغه راز په زعفرانو کې د ساپونین (Saponin) برخه د ځوان ساتنې او د زړېدو د مخنیوي لپاره او زعفران د پوستکي د بیا جوړېدو او د التهاب د مخنیوي او په دفاعي چارو کې مهم رول او ځای لري. ویلی شو چې د افغانستان له زعفرانو څخه د ګټورو عناصرو ټولونه، د سینګار له نورو عناصرو سره د ګډولو، د رول او اغېزو د ازمایښت او د خوندیتوب د ارزونې د ټکنالوژیو پر مټ او لارو چارو ګډېږي، دا په چین کې د مشتریانو د ښکلا، سینګار موادو لپاره غوښتنې په ښه توګه پوره کولی شي او په افغانستان کې د زعفرانو کرنه د بزګرانو لپاره هم ډېرې ګټې له ځانه سره لري.

څنګه د خوراک په توګه له زعفراني غذایي موادو استفاده کېدلی شي؟ خلک همېشه په اوبو، چای او یا ښوروا (سوپ) کې د زعفران څو دانې اچوي او د زعفرانو چای او یا ښوروا (سوپ) څښي. په زعفرانو کې ایکوپیینې lycopene د طلا (سرو زرو) په توګه ګڼل کېږي چې دا د بدني روغتیا لپاره یو ډېر ګټور عنصر دی، د زړه، د وینو رګونو، د ګېډې او کولمو فعالیت د تنظیمولو، د روحي فشارونو د کمولو، د خپګان لېرې کولو او د غوسې کمښت په ارامتیا کې اغېزمن رول لري. اوس د یاد پوهنتون د خوراکونو د ساینس او پروژو د پوهنځي مرستیال مشر او پروفیسر لو وین یونګ په مشرۍ د ډاکترانو یوه ډله له زعفرانو څخه د روغتیایي خوراکونو د جوړولو په څېړنه بوخت ده. پروفیسر لو وین یونګ وویل، د اصلي او سوچه زعفرانو بیه ډېره لوړه ده، که غواړو عادي مشتریان له زعفرانو څخه استفاده وکولی شي، یوه لاره پیدا کوو او اوس په دې اړه په څېړنه بوخت یو، ترڅو د مډرنې ټکنالوژۍ پر مټ له زعفرانو څخه اغېزمن او مطلوب عناصر جلا او وایستل شي، د نورو خوراکونو له عناصرو سره یو ځای شي او د ساینس په مټ د یوې اندازې تناسب له مخې، مخلوط او ګډ شي، نو په دې توګه د روغتیا ساتنې لپاره ډول ډول ځانګړي خوراکونه جوړېدلی شي. یوازې که د زعفراني عناصرو لږه کمه اندازه او فیصدي پکې موجوده شي، نو د دغو خوراکونو اصلي بیه یو څه ټیټېدلی شي، په دې توګه عام مشتریان یې هم د اخیستلو توان پیدا کولی شي.

سینګار او د بدني روغتیا لپاره خوراکونه په چین کې دواړه ستر بازار لري او د یاد پوهنتون عالي او مخکښو ساینسپوهانو لخوا د افغانستان زعفران تر څېړنې لاندې دي، دا څه اهمیت لري؟ د دغو ازمایښتونو ترسره کول یانې په افغانستان کې د چین د زعفرانو کرنې شرکت مسوول شیانګ جي خپل نظر داسې څرګند کړ. هغه وویل، تر اوسه پورې له زعفرانو څخه د سینګار په ساحه کې استفاده نه ده شوې او دا ځل له زعفران څخه د سینګار لپاره موږ غواړو مواد جوړ او وړاندې کړو چې په مستقیمه توګه هم د ښکلا لپاره او هم د پوستکي د ساتنې لپاره ګټور اوسي. بلخوا له سینګار څخه د خوراکونو جوړول به د خلکو په بدن کې د داخلي دوران له لارې د بدني روغتیا او د پوستکو د ساتنې لپاره ډېر ګټور اوسي. چینایان دغو چارو ته ډېره پاملرنه کوي چې د زعفرانو ګټور عناصر د خوراکونو او پر پوستکو د استفادې له لارې کېدلی شي چې هم د ظاهري او هم د بدني سلامتیا لپاره ډاډمن، ګټور طبیعي، نباتي موادو ته لاسرسی پیدا شي، نو د دغو تولیداتو په اړه بازار له هیلو ډک دی. موږ به هم خپلې ګټې کمې کړو، ترڅو لا زیات مشتریان بیا د دغو توکو د اخیستلو توان پیدا کړي او لا زیات زعفران د مشتریانو اړتیاوې پوره کړي. په افغانستان کې د زعفرانو حاصلاتو د لا زیاتوالي لپاره به بزګران د دغه نبات کرکیلې ته لا زیاته مخه کړي. موږ هیله لرو چې په راتلونکو پنځو کلونو کې له افغانستان څخه د زعفرانو لا زیات واردات ولرو د وارداتو خپله کلنۍ اندازه تر لسو ټنو هم لوړه کړو.

# په سوریه کې د ناټو عسکر څه کوي؟

لیکوال: عبدالله لغمانی

اوسمهال دا پوښتنه تر هر وخت څخه ډېره مهمه ده چې د سوریې جګړه تقریباً نوره پای ته رسېدلې او د داعش تروریستی ډله؛ لکه، د نورو لویو او وړو تروریستي سازمانونو په څېر په کوچنیو ډلو وېشل شوې او په ډېرو برخو کې خو ان له منځه تللې، خو بیا هم د امریکا او اروپا نظامي ځواکونه د سوریې د عربي جمهوریت پرېښودلو ته ړېړه نه لري او نه ترې وځي.

خو په هر صورت، ځینې شنونکي وایي چې داسې شواهد شتون لري چې د ناټو د «تروریزم ضد» عملیات د سوریې د وګړو د ځورولو، غلا او مشکوکو سفرونو لپاره یوازې یو پوښ دی او دوی کوښښ کوي چې ځینې تاریخي اثار لوټ او له همدې ځایه نورو سیمو ته د خپلو راتلونکو پلانونو د پلي کولو لپاره پاتې شي.

دا کار دوی د سوریې د ناپېژندل شوي ډیموکراتیک ځواک لخوا پرمخ وړي او له دې نظامي ډلې سره د دوی مستقیم نظامي او غیر نظامي ملاتړ سره پرمخ وړل کېږي او د سوریې د ځینو سیمو په ګډوډولو کې هم دا ډله رول لري.

دا معلومه ده چې خورا ارزښتناک تاریخي اثار کیندل کېږي او راټولېږي او بیا د ناټو ځینو هېوادونو په ځانګړې توګه فرانسې ته لېږدول کېږي او له دې کار سره د فرانسې ان د دولت تر کچې ملاتړ په برخه دی او ګویا د تاریخي اثارو لوټ کول په سوریه کې د ناټو لخوا په دولتي کچه پر مخ روان دي.

خو له بله اړخه ناټو بیا نړیوالو ته داسې ښایي چې دوی ګواکې د سوریې د بیارغونې او د اوبو بندونو د چارو لپاره په کیندنو او جوړولو مصروف دي، د مثال په توګه، د Deir ez-Zur په سیمه کې د اوبو د یوه بند د کیندلو او پلان جوړونې په بهانه فرانسویانو غوښتل چې دلته ځینې تاریخي اثارو او مهم لاسوندونو ته لاسرسی پیدا کړي او په یو دول یې له دې هېواده وباسي، په داسې حال کې چې ډېر ژر د بند د جوړولو له کار څخه لاس پر سر شول او له کیندلو وروسته یې سمدستي دا سیمه پرېښوده او غنیمت یې تر لاسه کړل.

کټ مټ لکه په دویمه نړیواله جګړه کې به چې نازي المان سیمې نیولې او بیا به یې د هغو سیمو د تاریخي اثارو او کلتوري ارزښتونو په محوه کولو لاس پورې کاوه، ترڅو د خلکو او ملت اړیکه یې له تېرمهال او تاریخ سره پرې شي او چې دا اړیکه د یوه ملت پرې شوه، بیا ډېر په اسانه له منځه ځي او ډېر په اساني سره تر کنټرول لاندې راتللی شي، خو د تاریخي ارزښتونو خرابول او له منځه وړل د ملتونو له ډېر توند غبرګون سره هم مخ کېږي؛ لکه، په دویمه نړیواله جګړه کې چې جرمني ځواکونو د ځینو ملتونو له ارزښتونو سره دا کار کاوه او د خلکو او ملتونو له توند عکس العمل سره به مخ کېدل.

په کرېمیا کې د نازیانو له وېرې او هم د لوږې له امله سیمه‌ییزو خلکو خپل ځینې تاریخي اثار وپېرل او وار له مخکې دوی داسې لوږې ته برابر شوي وو، چې د دغو اثارو په پلورلو لاس پورې کړي او د دوی د ژوندي پاتې کېدو په بدله کې المانیانو ترې اخیستل. خلکو د مړه کېدو له وېرې د تاریخي ارزښتونو سره بېل شوي وو او یوازې د ژوندي پاتې کېدو په فکر کې وو، خو د لرغون پېژندونکو د سازمان د څېړنو له مخې، د دې سیمې کلتور او اثارو ته یې خورا ډېر زیان ور واړوه.

په لاتینه امریکا کې جرمنیانو د خلکو په احساساتو ملنډې ووهلې، د هغوی تاریخي اثار یې ترې راټول کړل او همدارنګه کې په ختیځه اروپا کې د اوکراین، کرېمیا او قفقاز د سیمو پخواني ځایونه وکیندل او هغه ټول اثار یې د غنیمت په توګه جرمني ته ترې یوړل او یا به یې له خلکو څخه په ډېره ناڅیزه بیه اخیستل او هغو ته به یې ډوډۍ او خوراکي توکي په بدل کې ورکول او په دې ډول یې خلک تر خپل استثمار او استعمار لاندې راوستل. فرهنګي او کلتوري ورانې تر بلې هرې ورانۍ او زیان رسونې د خلکو د افکارو په خرابولو او غلام کولو کې جوت رول لري.

له بده مرغه نن سبا هماغه لوبه په سوریه کې هم روانه ده ، د ناټو ځینې نور هېوادونه هماغه د جرمنیانو په پلونو پل ږدي او کټ مټ هماغسې کار تکراروي. د فرانسې هغه خلک چې یو وخت د جرمني د فاشیست نظام پر وړاندې جنګېدل او دا کار یې د جرمنیانو ډېر بد او بدترین باله، نن یې زامن او لمسیان هماغسې کارونه کوي او د ملتونو د کلتوري ارزښتونو د غارت او محوه کولو په چارو لګیا دي.

په داسې حال کې چې فرانسه د نړۍ د کلتوري میراثونو د ساتنې د سازمان (یونسکو) کور هم دی او په ۱۹۷۰ ز کال کې یې د بنسټ ډبره په فرانسه کې د فرانسویانو په غوښتنه او هڅونه اېښودل شوې او ګویا ښودل یې چې د نړۍ د نورو متلونو په پرتله ډېر فرهنګي ارزښتونو ته په درنښت قایل دي، خو بیا هم یونسکو سازمان د فرانسې په دغو کارونو سترګې پټې کړې دي، خو لکه د ملګرو ملتونو نورې برخې چې هېواد او هېوادبازي او ډلبازي پکې روانه ده، په یونسکو کې هم همدا کار تر سترګو کېږي او نور متحدین یې دې کار ته چنداني د بد کار سترګه نه ګوري.

د فرهنګي ملکیتونو د ساتنې کنوانسیون په څرګند ډول د نړۍ د هر ملت تاریخي میراث اهمیت په ګوته کوي. دلته هېڅ بله خبره شتون نه لري، هر فرهنګي ارزښت او هر قسم اثار په هغه ملت پورې اړوند دي، د کوم ملت په قلمرو کې چې د کیندنو په پایله کې پیدا کېږي او په هر حال او ان جنګ کې باید د هغو ساتنه وکړل شي او متخاصمې خواوې باید په احترام ورته قایلې وي، له ورانولو او ماتولو یې په کلکه ډډه وکړي.

په هرصورت، دا موضوع یوازې په تاریخ او کلتور پورې محدوده نه ده. داسې معلومات هم شته چې لوېدیځ کارپوهان، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې تر نامه لاندې په سوریه کې تر کنټرول لاندې سیمو کې د کانونو د موندلو لپاره د جیولوژیکي سپړنې کارونه هم کوي، ترڅو نفت او نور د ژوند او ګټې مهم عناصر ومومي او د هغو د هضمولو او ځان ته وړلو لپاره خښته پرې واچوي او لکه له نورو عربي هېوادونو په تدریج سره ترې ټول دغه توکي وزبېښي او خپلو هېوادو ته یې ترې یوسي.

# له خلکو او عامه ګټو سره دښمني؛

## سکاټ مېلر: طالبان په قصدي توګه عامه تاسیسات ویجاړوي



سره له دې چې طالبان په خپلو رسمي اعلامیو کې د عامه تاسیساتو ساتنه خپل مسوولیت بولي، خو تازه عام ولس او امریکایي چارواکي پر طالبانو نیوکه کوي چې ګواکې دوی په قصدي توګه عامه تاسیسات، په تېره سړکونه او پلونه په نښه کوي. په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو قوماندان ویلي، عامه تاسیسات له جګړې سره اړیکه نه لري، بلکې دا د افغانانو لپاره جوړ شوي او طالبان یې باید په قصدي توګه تخریب نه کړي. هغه همدا راز پر طالبانو غږ وکړ چې ژر تر ژره تاوتریخوالی کم کړي.

افغانستان څلورو لسیزو جګړو وران ویجاړ کړ، خو هغه تاسیسات چې په تېرو شلو کلونو کې د نړیوالې ټولنې له لوري جوړ شوي، ډېری یې ببرته د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ په جګړو کې ویجاړ شوي دي. په دې وروستیو کې طالبانو پر ګڼو ولسوالیو او ولایتونو بریدونه کړي چې د ټولنیزو او نورو رسنیو د راپورونو له مخې، په ډېریو دغو جګړو کې د عامو خلکو د اسانتیا لپاره جوړ شوي تاسیسات ویجاړ شوي دي. د ارزګان په جګړه کې د یوه دارالمعلمین چور کېدل، د کندهار په ارغنداب کې د یوه ستر او مهم پله الوځول، په هلمند کې په جګړه کې د برېښنا سبستېشن د توکو چور کول او دغه راز د کابل کندهار پر لویه لار د ماینونو ځای پر ځای کول، هغه پېښې دي چې یوازې په دې وروستیو څو میاشتو کې رامنځ ته شوې دي. د دې ټولو پېښو مسوول وسله وال طالبان بلل شوي دي.

سره له دې چې د طالبانو مشر ملا هبت الله هر ځل په خپلو مناسبتي پیغامونو کې د عامه تاسیساتو د ساتنې خبره کوي او پر خپلو وسله والو هم غږ کوي چې عامه تاسیسات وساتي، خو د عمل ډګر بیا برعکس دی او د طالبانو جګړه هره ورځ په هېواد کې د سړکونو، ښوونځیو، پلونو او نورو عامه تاسیساتو د ورانېدو او یا هم د هغه د جوړولو د مخنیوي سبب شوې ده. اوس تازه په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو عمومي قومندان جنرال سکاټ مېلر ویلي چې طالبان په قصدي توګه عامه تاسیسات په نښه کوي. دا لومړی ځل دی چې یو لوړپوړی امریکایي چارواکی د امریکا او طالبانو ترمنځ تر سولې وروسته دغه ډول څرګندونې کوي. هغه به اړو مرو خپلې څرګندونې د قوي معلوماتو پر بنسټ کوي. سکاټ مېلر پر طالبانو سخته نیوکه کړې چې عامه تاسیسات په نښه کوي او په خبره یې، باید له دې کار لاس واخلي. د ده په خبره: ((عامه تاسیسات هغه څه دي چې د نړیوالې ټولنې له لوري د عامو افغانانو د هوساینې او پرمختګ لپاره جوړ شوي دي، هغه د جګړې برخه نه دي، باید طالبان یې له ورانولو لاس واخلي. دوی یې قصداً په نښه کوي)).

بلخوا سکاټ مېلر یو ځل بیا هم پر طالبانو غږ کړی چې تاوتریخوالی کم کړي. نوموړي دغه راز طالبانو ته خبرداری ورکړ چې که تاوتریخوالی کم نه کړي، نو ښایي د سولې خبرې زیانمنې شي. دغه لوړپوړي امریکایي جنرال همدا راز ویلي چې له افغان ځواکونو یې ملاتړ دوام لري او طالبانو ته په کار ده چې تاوتریخوالی کم کړي. د ده په خبره: ((موږ پر خپلو ژمنو ولاړ یو، طالبان هم باید تاوتریخوالی کم کړي. د دې تر څنګ موږ د افغان ځواکونو ملاتړ ته هم ژمن یو او د اړتیا په صورت کې مرسته ورسره کوو)).

تر سکاټ مېلر مخکې هم ګڼو افغانانو په ټولنیزو رسنیو کې پر طالبانو نیوکه کړې چې ګواکې عامه تاسیسات ورانوي او د خلکو د پرمختګ مخه نیسي. دوی د لویو لارو د ویجاړولو، پر سړکونو د ماین اېښودلو، د سړکونو قصدي اړولو او دغه راز د پلونو ویجاړولو پر پېښو په ځلونو غبرګون ښودلی او پر طالبانو یې غږ کړی چې عامه تاسیسات د ولس شتمني ده او له دې تاسیساتو سره دښمني د ولس دښمني ده چې طالبان باید لاس ترې واخلي. طالبانو بیا د سکاټ مېلر پر دې څرګندونو غبرګون نه دی ښودلی.

# د روغتیا نړیوال سازمان: د نړۍ ۱۹۰ هېوادونو ته مو نږدې ۲ میلیارده ډوزه د کرونا ضد واکسین ځانګړې کړې




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۷۶ میلیونه او ۱۳۷ زره او ۵۶۹ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۶۸۳ زره او۹۴۵کسان مړه شوي او له ۵۳ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۷ میلیونه او ۸۸۸ زره او ۳۵۳ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۳۲۰ زره او ۸۴۵ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د لس میلیونه او شپږ زره او ۶۳۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۱۶۳ زره او ۹۱۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د دوه میلیونه او ۸۱۹ زره او ۴۲۹ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۴۴۲ زره او ۹۹۰مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز ترکیه، برېټانیا، ایټالیا، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا د روغتیا نړیوال سازمان ویلي، د نړۍ ۱۹۰ هېوادونو ته په برابره توګه د وېش لپاره یې نږدې ۲ میلیارده ډوزه د کرونا ضد واکسین بېل کړی دی.

یاد سازمان ویلي چې ټاکل شوې دا واکسین به په ۲۰۲۱ز کال په هغو هېوادونو ووېشل شي چې د روغتیا د نړیوال سازمان په مشرۍ د همکارۍ سند یې لاسلیک کړی دی. د واکسین جوړوونکو شرکتونو هم ویلي چې هیله لري د ۲۰۲۱ز کال په لومړنیو دریو میاشتو کې د واکسین د لېږد چارې پیل شي. دا همکاري چې د (کواکس) په نامه پېژندل کېږي، د نړۍ د ۶۴ هغو هېوادونو او ادارو تر منځ شوې چې اقتصادي وضعیت پکې لوړ دی او هدف یې په برابره توګه د کرونا ضد واکسین وېشل دي. یاد سازمان زیاته کړې چې ۱.۳ میلیارده ډوزه د کرونا ضد واکسین به د ټیټې او منځنۍ کچې عاید لرونکو هېوادونو ته ورکړل شي.

سره له دې چې د امریکا، برېټانیا او سعودي عربستان په ګډون په یو شمېر هېوادونو کې د کرونا ضد واکسین تطبیق پیل شوی او یو شمېر نورو بډایو هېوادونو بیا وار له مخه د واکسین جوړونکو شرکتونو نه دا واکسین اخیستی دی.

# د مولاناجلال الدین بلخي پوهنتون

حمیدالله حمیدي



د مولانا جلال الدین بلخي پوهنتون د بنسټ ډېره د افغانستان د لوړو زده کړو له وزارت څخه تر جواز اخیستنې وروسته په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په بلخ ولایت کې د دوو پوهنځیو (حقوقو او سیاسي علومو او ژورنالېزم) په درلودو سره اېښودل شوې ده. د مولانا جلال الدین بلخي پوهنتون د فرهنګي چارو مرستیال جان محمد جیهون وایي، وروسته وروسته یې له لوړو زده کړو وزارت څخه د نورو پوهنځیو؛ لکه، معالجوي طب، اقتصاد او ښوونې او روزنې د فعالیت جوازونه هم تر لاسه کړل. دغه پوهنتون اوسمهال پنځه فعال پوهنځي لري، چې عملاً پکې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي.

د مولانا جلال الدین پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی دوه ډیپارټمنټونه (قضا او څارنوالي، اداره او ډیپلوماسي)، اقتصاد پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه (مالي تجارت او ملي اقتصاد)، ژورنالېزم پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه (مطبوعات او راډیو ټلوېزیون)، ښوونه او روزنه پوهنځی یې (پښتو ادبیات، انګلیسي ادبیات، بیولوژي، کېمیا، ریاضي او نور) لري.

جیهون وایي، اوسمهال زیات شمېر محصلین په دغه پوهنتون کې پر لوړو زده کړو بوخت دي چې ۴۵ سلنه یې ښځینه دي. په دغه پوهنتون کې د ورځې په دریو بېلابېلو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ور غوښتل کېږي. په دغه پوهنتون کې تر اوسه پورې یوازې د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې کېږي او د ماسټرۍ کوم پروګرام نه لري.

د مولانا جلال الدین بلخي له پوهنتون څخه تر اوسه په دریو دورو کې د ۲۵۰۰ په شاوخوا کې محصلین د لېسانس په کچه فارغ شوي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړې دي. جان محمد جیهون وایي، چې په فارغو شویو محصلینو کې یې ښځینه او نارینه محصلین دواړه شامل وو، چې په خپله په بلخ او د هېواد په نورو ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې په دندو بوخت دي. دی وایي، هڅه یې کړې چې پر کارپوه او مسلکي کسان وروزي، څو ټولنې ته په ښه ډول خدمت وکړای شي.

د جیهون په خبره، په کال کې دوه ځله د کانکور ازموینه اخلي، په پسرلي او منې کې چې په هره کانکور ازموینه کې له ۶۰۰ نیولې تر ۹۰۰ پورې نوي محصلین جذبوي. دی وایي، که امنیتي او اقتصادي شرایط سم وي، نو په هغه کال یې د نویو محصلینو د جذب کچه هم لوړه وي، خو دوی هڅه کوي چې له محصلینو څخه مناسب فیسونه واخلي، څو ټول هغه ځوانان لوړو زده کړو ته لاسرسی پیدا کړي، چې دولتي پوهنتونونو ته نه دي بریالي شوي او په خصوصي پوهنتونونو کې د فیسونو د لوړوالي له کبله لوړې زده کړې نه شي کولای.

د مولانا جلال الدین بلخي پوهنتون اداره د محصلینو لپاره بېلابېل تخفیفونه لري، چې لومړیتوب یې د شهیدانو، معلولینو د کورنۍ غړو ته ورکړی دی. جان محمد جیهون وایي چې د ښځینه محصلینو لپاره یې ډېر تخفیف په پام کې نیولی دی. دی وایي چې په ټوله کې د محصلینو اقتصادي وضعیت ته په کتو، دېرش او ان تر څلوېښت سلنې پورې تخفیفونه ورکوي. د دې ترڅنګ، مولانا جلال الدین بلخي پوهنتون له یو شمېر نورو ادارو سره هوکړې لري چې له مخې یې دوی ته محصلین ور معرفي کوي او د ځانګړي تخفیف له مخې ورته د لوړو زده کړو زمینه برابروي.

په دغه پوهنتون کې د محصلینو لپاره مجهز کتابتون په پام کې نیول شوی دی. جیهون وایي، چې په کتابتون کې یې د پوهنځیو اړوند او نور بېلابېل پنځلس زره کتابونه ځای پر ځای کړې دي. دی وایي، محصلین او استادان یې کولای شي چې وخت ناوخته له دغه کتابتون څخه ګټه واخلي او مطالعه پکې وکړي. د جیهون په خبره، د ښوونې او روزنې پوهنځي د محصلینو لپاره یې په ټولو اړینو وسایلو سمبال یو لابراتوار هم چمتو کړی، څو محصلین وکولای شي د نظري زده کړو ترڅنګ، په عملي ډول هم زده کړې وکړي. د کتابتون او لابراتوار ترڅنګ یې محصلینو ته کمپیوټر لب هم چمتو کړی، چې پر انټرنېټ سمبال دی. دی وایي، محصلین کولای شي د کمپیوټر د زده کړې ترڅنګ له انټرنېټ او د دوی د الکترونیکي کتابتون څخه هم په وړیا ډول ګټه واخلي.

د مولانا جلال الدین بلخي پوهنتون د فرهنګي چارو مرستیال وایي، په کور د ننه او بهر دواړو کې له پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري. دی وایي، چې په ایران، ترکیه، هند او تاجکستان کې یې له یو شمېر پوهنتونونو سره ناستې کړې او غواړي په راتلونکي کې ورسره د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو په چوکاټ کې د علمي اړیکو هوکړې هم لاسلیک کړي، له تجربو یې ګټه واخلي او د لا نورو لوړو زده کړو لپاره خپل محصلین ور واستوي.

ښاغلی جان محمد جیهون وایي، لوړو زده کړو وزارت ورته تر اوسه پورې یو ځل په ډېره کمه اندازه دولتي ډیپلومونه ورکړي او دوی خپلو یو شمېر فارغ شویو محصلینو ته وېشلي دي. دی وایي، له هغه پرته فارغ شویو محصلینو ته یوازې د نمرو فورم او یوه تاییدپاڼه ورکوي. نوموړی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د دغو ډیپلومونو د وېش پروسه اسانه کړي، څو یې ټولو فارغو شویو محصلینو ته ووېشي.

په مولانا جلال الدین بلخي پوهنتون کې د تدریس چارې د ۷۰ تنه مسلکي استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې ښځینه استادانې هم پکې شاملې دي. ښاغلی جهیون وایي، د دوی هڅه دا ده چې مسلکي او تجربه لرونکي استادان پر دندو وګوماري، څو مسلکي او پر کارپوه محصلین وروزي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي. دی وایي، استادان یې د دوکتوار او ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.

د کتابتون، لابراتوار او کمپیوټر لب ترڅنګ مولانا جلال الدین بلخي پوهنتون د محصلینو د ورتیا لوړولو لپاره حقوقي کلینیک، د کارموندنې اداره، اونیز او میاشتني ورکشاپونه او نور داسې پروګرامونه لري چې محصلین تجربې تر لاسه کړي او وړتیاوې یې لوړې شي.

د نویو پوهنځیو جوړول، پوهنتون ته پراختیا ورکول او د ماسټرۍ پروګرام پیلول، د دغه پوهنتون راتلونکي پلانونه دي.

جان محمد جیهون له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې فارغو شویو محصلینو ته د ډیپلومونو د وېش په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي، څو محصلین له خپل دې حق څخه برخمن شي. د دې ترڅنګ له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، دا چې د خصوصي پوهنتونونو محصلین په رسمیت پېژني، نو استادانو ته دې هم د دولتي پوهنتونونو د استادانو په څېر د علمي رتبو سیستم جوړ کړي.


---

## د کتاب خبرې

## د جاسوسۍ پېښلړ
## RAW, ISI
## او د سولې وهم

- لیکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادیتیا سینها
- ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېیمه برخه
کشمیر




دوراني: کومه پانګونه چې د پاکستان حکومت په کشمیر کې کړې ده، د ټول هېواد حد اکثر برخه جوړوي. له کشمیر پرته تر اوسه هېڅ کومې سیمې دومره پیسې نه دي ترلاسه کړې. که تاسو لاړ شی دا لاسته راوړنه په خپلو سترګو ووینی. هلته تر ۱۹۹۰ یمې لسیزې پورې شته زېربنا د ټول هېواد په پرتله په غوره وضعیت کې وه. خلک باید ښه ژوند ولري، راځئ چې سړکونه ورته جوړ کړو. کشمیریان لېوالتیا لري چې په پاکستان تر نورو زیات زده کړو ته لاسرسی ولري. ښوونځیو ته د ماشومانو ورتګ عادي خبره ده. یوه ورځ سهار اوو بجې وې، له ډېرې یخنۍ لړزېدم خو ما لیدل چې کشمیري ماشومانو بکسې شا ته اچولې وې او ښوونځي ته روان وو. خو له کرښې هاخوا کشمیریان احساس کوي چې کوم چلند چې د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیریانو سره کېږي، هغوی سره نه کېږي.

دولت: زه فکر نه کوم. تاسو د پاکستان تر ولکې لاندې کشمیر یادونه وکړه. ما د یاد کشمیر په اړه په پوره پام سره خبرې کړې دي. زه فکر نه کوم چې د هغه ځای ټولنیز او اقتصادي وضعیت به ښه وي، خو چوپ پاتې کېدل به یې په اړه غوره وي. همدارنګه زه دا منم زموږ خوا ته کشمیر کې هم ستونزې شته. دا سمه نه ده چې هاخوا هر څه ګل ګلزار دي، ځکه چې په بېلابېلو وختونو کشمیریانو ما ته ویلي چې موږ پرېږدی چې لاړ شو. هغوی ته باید اجازه ورکړل شي چې ازاد تګ راتګ وکړي او هر څه په خپلو سترګو ووینې او بېرته په خپله خوښه راستانه شي. داسې کشمیري ځوانان شته چې پاکستان یې پرېښې او بېرته دېخوا راغلي دي. ځینو یې ودونه کړي او هلته کاروبار لري. هغوی په حقه دي. خو هغوی چې تللي دي، ډېر لږ یې بېرته راستانه شوي دي. صلاح الدین ځوان نه دی، خو ښایي بېرته راستون شي او د ګیلاني صېب ځای ونیسي. د وخت په تېرېدو سره د نوموړي سیاسي علایق زیاتېږي.

دوراني: ډېره به ښه وي که کشمیریان د سولې په خبرو کې راګډ کړل شي، که دا د دویم پړاو خبرې دي او که غیر رسمي ناستې. یو څه باید له هغې لورې او یو څه له دې لورې راوغوښتل شي. حتی که مخنیوی یې هم وکړی، ستاسو پر وړاندې خپل غږ پورته کولای شي. ډېلي، ته شیطان یې او اسلام‌اباده، ته زموږ ښه ملګری نه شوې. موږ باید د هغوی احساسات درک کړو. که په هند کې د کشمیریانو دې خبرې ته «هغوی ته اجازه ورکړئ چې دواړو لورو ته تګ راتګ وکړي» پام ونه شي، نو اړ دي چې د هند برخه شي.

سېنها: جنرال صېب د ثابت بن بست یادونه وکړه: له دې کچې پورته د هند-پاکستان ښې اړیکې به په کشمیر کې وضعیت د هند لپاره کړکېچن نه کړي؟

دولت: برعکس، ښې اړیکې د کشمیریانو په ګټه دي. د هغه وېره دا ده چې کله د هند او پاکستان ترمنځ کړکېچ وي، زیان به یې هغوی ته ورسېږي. یوازېنی کشمیری رهبر چې مخکې به یې په دې اړه غبرګون نه ښوده، فاروق عبدالله و. خو اوس نوموړی تل دا خبره کوي چې له پاکستان سره د ښو اړیکو له لرلو پرته بله لار نه شته. هغه اوس پوه شوی دی. اوس پوښتنه دا ده چې حل لاره څه ده؟ ممکن تاسو وواییې چې کشمیر اساسي موضوع یا د پاکستان ناتمامه اجنډا ده، خو اصلي ټکی له روان وضعیت څخه مخ په وړاندې حرکت دی.

دوراني: هند په تېر کې سمبولیک نرمښت ښودلی دی لکه د بس موضوع. د هند د حکومت تګلاره دا ده چې مخ په وړاندې حرکت کولای شي چې کشمیریان ډاډه کړي. دا به هغوی وهڅوي چې په خپلو احساساتو ځان ژوبل کړي او هغه څه چې په تخنیکي ډول مدیریت شوي وو، له کنټروله بهر کړي. د هند او پاکستان د ښو اړیکو په شتون کې به کشمیریان څومره ښه احساس ولري؟ یو شمېر یې په دې باور دي چې که زموږ اړیکې سمې شي، نو د پاکستان لور ته کشمیر موضوع خپله له پامه وځي. موږ غواړو چې په خپلو کې تجارت وکړو، نو ولې ځان ته لانجې وګورو؟ اساسي موضوع د سیاسي مشرتابه لپاره پر یوه سرخوږي بدلېږي: وروسته کشمیر؟ راتلونکې ستونزه به څه وي.

دولت: موږ هم دا خبره له کشمیریانو اورېدلې. کشمیر د هند یوازې د کړکېچ او ستونزې په وخت کې په یاد وي. میر واعظ او نورو هم دا خبره کړې ده. زه په دې باور یم چې که کشمیریان خوشاله وي، نو ملاتړ (فال بک) خپل ارزښت له لاسه ورکوي او د وخت په تېرېدو سره له منځه ځي. که چېرته کشمیریان خوشاله وي، پاکستان ته څه اړتیا لري؟ اړتیا ورته هغه وخت لري، چې په ستونزه کې وي.

دوراني: په کشمیر کې د وضعیت ښه کېدل د پاکستان د نفوذ په مانا هم دی. لامل یې جغرافیوي، تاریخي، دیني، شپېته کلن تاوتریخوالی او نور فکټورونه دي؛ حتی نن هم امنیتي ځواکونه هلته شته. دې مسایلو ته اوس پام کېږي او ستاسو له ښه مدیریت څخه مننه، خو زه د کشمیریانو په څېرو کې خوشالي نه وینم. هغوی چې پاسپورټ لري، هغوی چې بهر سفر کوي، هغوی چې روڼ اندي دي ټول هر ځای د تګ اجازه لري او له کومې ستونزې سره نه دي مخ، خو کله چې چانس ورکړل شي، وایي چې لا هم چک پوسټونه شته. پاکستان په دې اړه کوم اعتراض نه لري. خو که چېرته دوام وکړي، نو پایلې به یې د هند لپاره منفي وي. پرېږدئ هغوی به تر یوې مودې له دې حالت سره مخ وي. موږ تر دې زیات څه نه شو کولای. د پاکستان فکټور لزوماً تل د کشمیریانو یا مسلمانانو لپاره ښه نه دی تمام شوی. **دوام لري...**

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٧,١ |
| € | ٩٣,٦ |
| Rp. | ٤٨٢ |
| ₹ | ١٠٤٠ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ١٠٢,٥ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# ژوند د فزیک په قوانینو کې رانغاړي

لیکنه: فهیم لمر

لومړی برخه:

د ژوند ډېری اصول د فزیک د قوانینو په محور کې څرخېږي، لکه څرنګه چې انسان د طبیعت یوه برخه دی، نو څرنګه چې فزیک هم له طبیعت څخه بحث کوي، دا به عجیب هم نه وي چې د انسان د ژوند ډېری اصول به په ځان کې راونغاړي. دلته ځینې قوانین او د انسان له ژوند سره یې اړیکې درته تشریح کړو:

- د فزیک د قوانینو

په استنباط په هموار سطحه کې یو ساکن جسم ته حرکت ورکول په لومړیو کې ډېرې انرژۍ ته اړتیا لري، ترڅو متحرک شي، خو وروسته بیا د هغه د تحرک ساتلو لپاره د لومړنۍ انرژۍ په پرتله لږې انرژۍ ته اړتیا وي؛ ځکه د استحکاک انرژي پکې کمزورې کېږي.

د ژوند چارې کټ مټ همدې قانون ته ورته والی لري. کله چې تاسو غواړی یو کار وکړی، نو پیل یې ډېر سخت وي. مختلف لاملونه مو مخ ته درېږي، ترڅو خنډ رامنځته کړي او موږ خپل کار پیل نه کړو، خو کله مو چې پیل کړ، نه یوازې دا چې موږ به خپلې چارې په ښه توګه مخ ته یوسو، خوند به هم ترې اخلو.

د مثال په توګه، غواړو چې یو کتاب مطالعه کړو، خو پیل یې سخت وي. له ځانه سره انګېرو چې ګړۍ وروسته به یې شروع کړم، سبا به یې شروع کړم، اوس ستړی یم، اوس د مطالعې لپاره ښه وخت نه دی. دا فکتورونه د استحکاک د انرژي په توګه عمل کوي او د دې لامل کېږي چې د کتاب لوستل شروع نه کړو او یا د کتاب د لوستلو لپاره ډېره انرژي مصرف کړو، خو کله مو چې شروع وکړه، نه یوازې دا چې ډېرې انرژۍ ته اړتیا نه وي، بلکې له مطالعې نه به خوند هم اخلو.



په همدې ډول نور شیان هم درسره اقتباس کړئ؛ لکه، درس لوستل، د یوې مقالې لیکل، د یو کاروبار شروع کول او ډېری نور، نو دا به ښه وي چې په ورځني ژوند کې، هغه انرژي چې د یوه کار د پیل لپاره په کار وي، دا ونه انګېرو چې تر اخره به په هماغه کچه پکار وي. دا د دې لامل کېږي چې خپل کار پیل نه کړو او ساکن پاتې شو.

- دویم قانون؛ هر عمل، عکس العمل لري. دا په دې مانا چې پر یوه شي چې پر هر اندازه انرژي وارده شي، نو په نتیجه کې په هماغه اندازه انرژي بېرته په متقابل لوري وارديږي.

د انسانانو په ژوند کې هم کټ مټ همداسې ده. که وغواړو چې یو کار ترسره کړو، نو کومه انرژي چې موږ مصرفوو، په هماغه اندازه لاسته راوړنه به ترې لرو. مثلاً، تاسو د ازموینې لپاره لګیا یی او درس وایئ، ستاسو نتیجه به هم په هغه اندازه وي، کومه انرژي چې تاسو، د درس په لوستلو کې په مصرف رسولې وي. یا مو له لیکوالۍ سره مینه وي، نو په هره اندازه انرژي چې تاسو د لیکوالي په مشق او تمرین کې په مصرف رسوی، نو ستاسو د لیکلو مثبته انرژي به هم به هماغه اندازه وي، په کومه اندازه چې تاسو د هغه کار د ترسره کولو لپاره په کار اچولې وي. په همدې ډول د ژوند نورې چارې درسره شمار کړئ؛ لکه، د تجارت لپاره اعلانات، د انځور کښل، د ګلانو روزنه او داسې نور.... که مو په ژوند کې په ښو شیانو انرژي مصرف کړې وي. په کومه کچه مو چې مصرف کړې، په هغه اندازه به بېرته مطلوبه نتیجه لاسته راوړی او که پر منفي څیزونو مو انرژي مصرف کړې وي، نو پایله به یې هم تر هغې کچې منفي وي، په کومه اندازه چې موږ انرژي پرې مصرف کړې ده.

- د انکسار یا د نور د تجزیې قانون. کله چې له منشور څخه نور تېر شي، نو پر اوو رنګونو تجزیه کېږي: زرغون، سور، بنفش. ژېړ. ابي.... همدا لامل دی چې ځینې وختونه موږ شنه او زرغونه په اسمان کې وینو.

که دا قانون موږ د انسانانو له لیدلوري سره پرتله کړو. دې نتیجه ته رسېږو چې د انسانانو لیدلوری تر ډېره ورسره ورته والی لري. ځینې حالات د دې لامل ګرځي چې موږ یوازې نور ووینو او خپل لید ته په کتو یوه موضوع تشریح او تحلیل کړو، خو ځینې انسانان بیا په داسې حالاتو کې وي چې د نور د تجزیې او لیدلو وړتیا هم لري، نو هغوی بیا یوې موضوع ته له بېل لید څخه ګوري. ځینې د اوو ټولو رنګونو د لیدلو وړتیا لري او ځینې بیا یوازې څو مشخص رنګونه لیدلی شي.

همدا لامل دی چې انسانان د مختلفو فکرونو خاوندان دي او مختلفې عقیدې لري. د خپل فکر پر بنسټ مختلفې پنځونې لري، نو کله چې تاسو یوې موضوع ته ځیر کېږئ، له مختلفو عقیدو سره به مخ شی. هېڅکله د نورو لیدلوری او عقیدې ته په سپکه مه ګورئ؛ ځکه امکان لري چې دوی د لید په داسې موقعیت کې وي چې تاسو ونه اوسئ او یا کوم حالت کې چې تاسو یاست، دوی ونه اوسي.

دوام لري...

## ولسي جرګه: حکومت او طالبان دې د سولې خبرې د ځای له کبله نه قرباني کوي

د ولسي جرګې غړي وايي، د افغان حکومت او طالبانو تر منځ ۲۲ ورځنۍ دمه ښايي د ځای د ټاکلو په پلمه نوره هم وغځېږي.

د وکیلان او سیاسي احزاب نیوکه کوي چې لومړی پړاو خبرې د خلکو د تمې خلاف پای ته رسېدلې او په دویمه مرحله کې دې پر اوربند سلا وشي. دوی وايي، حکومت او طالبان دې د سولې خبرې د ځای او مکان قرباني نه کوي او د دمې یوه ورځ ځنډول هم د افغانانو په ګټه نه ده.

حزب اسلامي د لومړي پړاو خبرې هسې د وخت ضایع یاده کړې او وايي، چې په تېرو درېو میاشتو کې د سلګونو افغانانو وینې وبهېدې، خو په اوربند سلا نه شول. طالب ویاند ذبیح الله مجاهد بیا وايي، چې د



سولې دویم پړاو خبرې دې په نورمال ډول مخ ته لاړې شي، ترڅو د لومړي پړاو په څېر بې ګټې پای ته ونه رسیږي. د ملي مصالحې عالي شورا ډاډ ورکوي چې د سولې خبرې په ټاکلي وخت پیلېږي. او دا ځل به ښه پایله ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د حکومت او طالبانو د مذاکراتو پلاوو ترمنځ لومړی پړاو خبرې پای ته رسېدلې او دواړو لورو یو او بل ته خپلې پېشنهادي اجنډاوې سپارلې ترڅو له خپلو مشرانو سره یې په اړه مشورې وکړي.

بلخوا نشنل انټرسټ نشریې په یوه مقاله کې د افغانستان د سولې مسئلې ته کتنه کړې ده. د سرچینې په خبره، په دې وروستیو کې په افغانستان کې جګړې شدیدې شوې، د بېځایه شوو خلکو شمېر لوړ شوی او ملکي تلفات هم لوړ دي، نو د دې اړتیا ده چې ښکېل لوري ژر تر ژره د سولې په برخه کې یوه توافق ته سره ورسېږي.

د سرچینې په خبره په افغانستان کې د دایمي سولې د راتګ په نیت باید ټول‌شموله او ټولو لورو ته د منلو وړ مذاکرات پر مخ یوړل شي. نشنل انټرسټ لیکي، چې په دې مذاکراتو کې باید د اقلیتونو، مېرمنو، ماشومانو او جګړو د قربانیانو حقوق خوندي شي او تر څنګ یې دې د دوی نظریات هم واورېدل شي. سرچینې هیله څرګنده کړې چې بین الافغاني مذاکرات ژر تر ژره مثبتې پایلې ته ورسېږي.

## ولسمشرغني: د سولې د لومړي پړاو خبرو پرمختګونه دې له خلکو سره شریک شي

ولسمشر غني د سولې له مذاکراتي پلاوي سره په لیدنه کې ټینګار کړی، چې د سولې لومړي پړاو پرمختګونه دې له خلکو سره شریک شي.

دا په داسې حال کې ده چې له دوحې راستون شوي د افغان دولت د سولې مرکچي پلاوي په کابل کې د سلا مشورو لړۍ پیل کړې ده. دغه پلاوي پرون له ولسمشر محمد اشرف غني سره وکتل او د سولې د لومړي پړاو خبرو په اړه یې معلومات ورکړل.

د ولسمشر مرستیال ویاند دواخان مینه پال وايي: «ولسمشر د سولې په پروسه کې د ټولو اقشارو د نظریاتو شاملول لازم وګڼل، د دولت مذاکراتي پلاوي ته یې لارښونه وکړه، چې د دویم پړاو مذاکراتو له پیلېدو وړاندې دې، د افغانستان د



خلکو له بېلابېلو اقشارو سره سلا مشورې وکړي، څو د دوی په مذاکراتو کې د هغوی سم استازیتوب وشي.»

په ورته مهال د ملي مصالحې عالي شورا وايي، چې د دولت د سولې مرکچي پلاوي د تېرې چهارشنبې په ورځ د دغې شورا له مشر عبدالله عبدالله سره هم کتلي وو. د دغې شورا ویاند فریدون خوځون ازادي راډیو ته ویلي، د سلا مشورو په لړ کې ټاکل شوې چې پلاوی د ټولنې له بېلابېلو اقشارو سره هم وګوري. هغه ویلي: «پلاوی چې په څو ورځو کې په کابل کې وي، دوی د ټولنې له مختلفو اقشارو سره وګوري، څو خلک حس کړي، چې د سولې په بهیر کې حضور لري، دغه سلا مشورې به له مذاکراتي پلاوي سره مرسته وکړي، چې په دویم پړاو کې ښه بریاوې ترلاسه کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې اونۍ په لومړیو کې په قطر کې د افغان دولت او طالبانو د سولې مرکچي پلاوو یو بل ته خپلې پشنهادي اجنډاوې وسپارلې. دواړو پلاوو پرېکړه کړې، چې په اجنډاوو د غور لپاره به له خپل مشرانو سره سلا مشورې کوي او د جنورې په پنځمه به بېرته مذاکرات پېلوي.

په ورته وخت کې د طالبانو د سیاسي دفتر مرستیال ملا عبدالغني برادر په مشرۍ یو طالب پلاوی اسلام اباد ته تللی دی. د طالبانو اعلامیې له مخې، تراوسه دغه طالب پلاوي د هغه هېواد له لومړي وزیر عمران خان او د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره په بېلابېلو مسایلو خبرې کړې دي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com


یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۰مه | ۶۴۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۱۲ | ۱۲ | ۹ | ۱۹ | ۸ |
| -۱ | ۲ | ۳ | ۱ | ۷ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰۶:۵۵ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیگر ۰۳:۰۸ | ماښام ۰٤:٤۷ | ماخوستن ۰٦:۱۷

## کمیسیون انتخابات:
# برای برگزاری سه انتخابات در سال آینده آمادگی داریم



کمیسیون مستقل انتخابات، از آمادگی برای برگزاری انتخابات ولسی جرگهٔ غزنی، شوراهای ولایتی و برخی شاروالی‌ها، در میزان سال آینده خبر داده و از حکومت خواست که با فراهم کردن بودجه و تامین امنیت، زمینهٔ برگزاری آن را مهیا کند.

انتخابات ولسی جرگهٔ گذشته، در ۳۳ ولایت کشور در ماه میزان سال ۱۳۹۷ برگزار شد؛ اما انتخابات ولایت غزنی به دلیل اختلاف‌ها روی شیوهٔ برگزاری انتخابات، تاکنون برگزار نشده است.

حوا علم نورستانی رئیس کمیسیون مستقل انتخابات که دیروز طی نشست خبری در کابل صحبت می کرد، گفت که تمام آمادگی‌ها برای برگزاری سه انتخابات توسط این کمیسیون گرفته شده است.

وی افزود: «کمیسیون مستقل انتخابات، تمام آمادگی‌های تخنیکی وعملیاتی خویش را برای برگزاری انتخابات های ولسی جرگه ولایت غزنی، شوراهای ولایتی و تعدادی از شاروالی‌ها درماه میزان ۱۴۰۰ خورشیدی گرفته است. همچنان سند پروژهٔ حمایت از انتخابات با دفتر معاونیت ملل متحد و یو ان دی پی را امضا نموده است.»

موصوف گفت که ارزیابی مجدد مراکز رای دهی، اصلاح فهرست رای دهندگان، ثبت نام تقویتی رای‌دهندگان، از مهمترین موضوعاتی است که قبلاً از برنامه‌های عملیاتی انتخابات ولسی جرگه غزنی، شوراهای ولایتی و شاروالی‌ها توسط کمیسیون اجرا خواهد شد. او تصریح کرد: «کمیسیون بعد از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۸، درس های آموخته شده از این انتخابات را تدوین کرده؛ تا به اساس تجارب کسب شده، روند برگزاری انتخابات‌های بعدی، بهتر تنظیم و مدیریت گردد.»

## نړۍ



د روغتیا نړیوال سازمان:
# د نړۍ ۱۹۰ هېوادونو ته مو نږدې ۲ میلیارده ډوزه د کرونا ضد واکسین ځانګړې کړې
۳

## پمپیو: روسیه پر امریکایي ادارو په سایبري بریدونو کې لاس لري



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو وایي، دوی ډاډه دي چې روسیه د امریکا حکومتي ادارو پر خلاف په سایبري بریدونو کې لاس لري. دا په داسې حال کې ده چې په دغو انټرنېټي بریدونو کې د نړۍ په سطحه هم ځینې سوداګریزې ادارې په نښه شوې دي.

پمپیو په یوه ټلوېزیوني خپرونه کې ویلي، د امریکا په حکومتي سیستمونو کې اساساً د یو لړ کوډونو د ځای پر ځای کولو لپاره د درېیمګړي د سافټوېر د کارونې د پام وړ هڅې شوې دي.

هغه زیاته کړې، دا څرګنده خبره ده چې په دغه ډول فعالیت کې روسان دخیل دي، خو روسیې تر دې مهاله د پمپیو د دغو تورونو په اړه څه نه دي ویلي.

تر دې مخکې د امریکا حکومت د انټرنېټي بریدونو تر شا د چا د لاس لرلو په اړه څه نه ویل او دغه راز ولسمشر ټرمپ هم په څرګنده پر دې موضوع خبرې نه کولې.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د ټکنالوژۍ لوی شرکت مایکروسافټ ویلي چې په دې وروستیو کې یې ۴۰ مشتریان د زیان-رسوونکو سافټویرونو ښکار شوي چې ۸۰ سلنه یې په امریکا کې مېشت دي او متخصصان وایي، دا ډول هڅې حساسو حکومتي معلوماتو ته د هکرانو د نفوذ زمینه برابرولی شي.

## اسوشیټېډ پرېس: د ایران په فوردو اټومي بټۍ کې تر ځمکې لاندې رغنیزې چارې پیل شوي

اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس د سپوږمکیو په وسیله اخیستل شوي داسې تصویرونه ترلاسه کړي چې د ایران په لانجمنه فوردو اټومي بټۍ کې تر ځمکې لاندې رغنیزې چارې ښیي.

په یوه تصویر کې چې په دې وروستیو کې له یادې سیمې اخیستل شوی، د یوې ودانۍ د بنسټ د کیندلو تازه نښې نښانې ښکاري.

د اسوشیټېډ پرېس د راپور له مخې، دا ودانۍ تر بنسټ پورې د زلزلې د اغېز د کمولو لپاره لسګونه ستنې لري. په ورته مهال څارونکي بیا وایي، په داسې حال کې چې د ولسمشر ټرمپ ادارې د ایران د اټومي فعالیتونو او وسلو د پروګرام له کبله پر تهران فشارونه زیات کړي، په فوردو اټومي بټۍ کې د کار دوام ښایي د ایران او نړیوالې ټولنې په اړیکو کې کړکېچ یو ځل بیا زیات کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران او د نړۍ د پیاوړو قدرتونو ترمنځ په ۲۰۱۵ ز کال کې د اټومي کړکېچ د حل په موخه تړون وشو، خو د ټرمپ ادارې په یو اړخیز ډول له دغه تړونه امریکا و ایستله او پر ایران یې بېرته اقتصادي بندیزونه ولګول. ایران هم د امریکا د دغه کار په غبرګون کې خپل اټومي تاسیسات پراخ کړي دي.

## ژونـــد


## په بېړه پرېکړه مه کوئ!




ځیني وختونه موږ د خپلو افکارو په عملي کولو کې نیمګړتیاوې لرو. د بېلګې په توګه، یوې موخې ته د رسېدلو لپاره چې باید خو کاله په پام کې ونیسو، خو میاشتې ورته په پام کې نیسو. پایله یې دا وي چې بیا ډېر ژر له خپل کار څخه نهیلي کېږو، له حده زیات پښېمانه کېږو او هغه ټولې هڅې او پلټنې بیا بې ګټې ګڼو، خو د خپلو محاسبو له نیمګړتیاوو څخه نه یو خبر. حقیقت دا دی چې لوړو موخو ته د رسېدلو لپاره باید له یوه کال څخه زیات کوښښ وکړو، په دې کې هېڅ پوښتنه یا دلیل نه پیدا کېږي چې خپلو موخو ته د رسېدلو لپاره یوځه اوږده موده په نظر کې ونیسو. ټینګ هوډ تاسو په چټکتیا سره خپلو موخو ته رسوي. که تاسو په پلان جوړولو کې پوره دقت کړی وي او له دې سره سره مو د کارکولو په وخت کې زیاتې هڅې کړې وي، نو نه به مخکې له مخکې وېره درسره وي او نه به هدف ته د رسېدلو په وخت په لنډه موده کې نهیلي کېږی.

## د ګلکسي اې-۵۲ له ځانګړنو خبر یاست؟

سامسُنګ کمپنۍ تېر کال ګلکسي اې-۵۱ ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ. دغه ځیرک موبایل د غوره ځانګړنو او ارزانه بیې له امله د کاروونکو له تاود هرکلي سره مخ شوی و. اوس سامسُنګ کمپنۍ غواړي چې په ۲۰۲۱ ز کې د دغه ځیرک موبایل نوې بڼه خرڅلاو ته وړاندې کړي، خو د نورو ځیرکو موبایلونو په څېر په رسمي ډول معرفي کېدو څخه وړاندې د دغه ځیرک موبایل ډیزاین او ځینې ځانګړنې هم د باوري سرچینو له لوري افشا شوې دي. ان‌لیکس چې د ځیرکو موبایلونو د مالوماتو افشا کوونکې باوري سرچینه ده، په خپله وایس پاڼه کې د دغه ځیرک موبایل د ډیزاین تصویر هم خپور کړی دی. په دغه تصویر کې د دغه



ځیرک موبایل د مخکینۍ، شاتنۍ او د کمرې ډیزاین ښودل شوی دی. د افشا شویو معلوماتو پر بنسټ، ګلکسي اې-۵۲ به هم د تېر کال ګلکسي اې-۵۱ په څېر شاتنۍ برخه کې څلور کمرې او انفېنېټي-او (Infinity-O) ډوله مخپاڼه ولري. ګلکسي اې-۵۲ به ٦,۵ انچه مخپاڼه ولري او د ګوتې نښې سنېسر هم د مخپاڼې لاندې ځای پر ځای شوی دی.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بتوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافی خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافی خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

